ناشر و نویسنده:پوهندوی آصف بهاند تأریخ: ۲۰۱۴/۱۰/۲۸

# د مطالعې دود او دوې وروستی مقالې

د خوشالی خبره ده چې د لوست، کتاب او مطالعې په لوري، د استادانو،شاګردانو او نوي نسل پام اوړي. هيله ده چې دا هڅې نورې هم بيړنۍ شي او د مطالعې کلتور دومره عام شي چې کوراکور د کتاب او مطالعې په ارزښت باندې خلک پوه شي.
کله چې مطالعه وي، نو ورسره پوهه وي.چې پوهه وي د کتاب او مطالعې وال خپله لار د ښيګڼې او پرمختګ پر لوري پرانيزي. کله چې کتاب او مطالعه وي، د نا پوهۍ او تيارې لمن توليږي، د خلکو او ټولنې سترګې غړيږي، بيا نو خپل منزل ته د رسيدو لار پيدا کولای شي.
د کتاب، مطالعې او مطالعې ته د هڅونې په باب چې هر څومره وويل شي، وليکل شي او خپاره شي، بې ګټې، تکراري او زاړه به نه وي. په دې وروستيو کې د نورو لړو، څو ګټورو مقالو په سلسله کې دوې په زړه پورې او ګټورې مقالې خپرې شوې چې په رښتيا سره د کتاب، مطالعې او زدکړې په باب نوې او د ښيګڼې پر لوري هڅونکې خبرې لري.
د کتاب او مطالعې د ارزښت په باب چې کومې دوې مهمې مقالې خپرې شوې دي، هغه دا دي:

۱ـ د کور کتابتون او ماشومان، د ښاغلي اسدالله غضنفر ليکنه.(۱)
۲ـ ملګرې کتابونه، د ښاغلي بارکوال مياخيل ليکنه.(۲)
ښاغلي غضنفر د مقالې په پيل کې په عالمانه ډول ټينګار کوي چې کتاب د ماشوم په ذهن باندې څومره مثبت اثر لري، که په يوه کور کې کتابتون يا حد اقل څو توکه کتابونه وي، د ماشوم سترګې هره ورځ په کتاب باندې ولږيږي، هغه هغه ماشوم څومره مطالعې او زدکړو او لا لوړو زدکړو ته هڅول کيږي. ښاغلی غضنفر د يوې اوردې څيړنې پايله په يوه جمله کې را اخيستې ده، په دې ډول:«که په يوه کور کې هيڅ کتاب نه وي او په بل کې پنځه سوه عنوانه کتابونه وي، د کتاب لرونکي کور زده کوونکی ممکن تر هغه بل درې کاله ډېر سبق ووايي»(۱)
ښاغلی غضنفر د خپلو خبرو په ترڅ کې ټينګار کوي چې:« خير دی که ميندې او پلرونه نالوستي وي يا يې له مطالعې سره دلچسپي نه وي، خو د اولاد په خاطر دې د خپل وس په اندازه خامخا يو څه کتابونه رانيسي او په کور کې دې يوه کوټه، يوه الماری يا يو کونج کتابونو ته ورکړي.»(۱)
خلاصه په هر کور کې بايد د کتاب شته والی او لوستل په يوې ورځنۍ اړتيا بدله کړای شي.
دغه راز د ښاغلي بارکوال مياخيل په مقاله کې هم د کتاب او مطالعې په باب نوې او د پام وړ خبرې راغلي دي.
ښاغلي مياخيل په خپله مقاله کې د کتاب لوستنې او مطالعې د عاميدو په باره کې داسې بيساری مثال راوړی دی چې زما له خوښې نه ورته اوښکې تويې شوې . ښايي دا نوښت به يا زما له پاره نوی وي او يابه د ټولو له پاره نوي وي چې په موږ کې داسې يو زړه سواندی شخص، داسې يو زړه سواندی پلار او داسې په وطن او پوهې باندې مين څوک پيدا کيږي چې خپلې وديدونکې لور ته د واده د نورو توکو په ډله کې کتابونه هم ړدي. د مياخيل صاحب د مقالې په استناد دا کار ښاغلي ډاکتر عبدالرووف ر فيقي کړی دی. زما په نظر  دا په اوسني وخت کې داسې نوښت دی چې تر اوسه هيڅ چا نه و کړی او دا ډالۍ چې يو پلار خپل اولاد ته د ګانو په څنګ کې کتابونه هم ډالۍ کوي؛ دا د علم په لوري ، د زدکړې پر خوا يو حرکت دی او د پوهې او مطالعې بام ته زينه اېښودل دي. خپل اولاد او خپل نوی نسل د پوهې لوړو پوړيو ته تشويقول او خيژول دي. ښاغلي رفيقي په فرهنګې محافلو کې دې کارته نور هڅول، خو خپله يې عملاً د خپلې لور د واده په توکو کې  د ډالۍ په ډول څو توکه کتابونه هم ايښي وو.(۲)
دا زما له پاره ډېره د خوشالۍ او سر لوړۍ خبره ده چې داسې يو نيک او متمدن عمل نه خبرېږم او زده کوم يې. دا زما له پاره يو نوی زيری دی چې يو افغان پلار د خپلې لور په جهيز کې څو توکه کتابونه هم ړدي. زه فکر کوم


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

چي د پلار له خوا او د پلار ګنی له خوا يوې وديدونکي جلی ته او دهغې نوي ژوند ته له ټولو ګانو، جامو او نورو ورکړل شوو توکو نه به قيمتي ډالۍ همدا وي چي اثرات به يې په جلی، دهغې په نوي ژوند، نوې کورنۍ او بچيانو باندې هم ښه محسوس وي او مثبت اثرات به ولري.
زه ډاکټر صاحب رفيقي نه پيژنم، خو د دغه کار او دغه نوښت په خاطر د زړه له کومې مبارکي ورته وايم، ځکه چي د دې نوښت سر لاری دی شو او هيله مې دا ده چي دا دود په ټولو کې باب شي.
ښاغلی مياخيل په خپله ګټوره مقاله کې د دې زيري تر څنګ د مطالعې د ارزښت په باب نورې نوې خبرې هم لري او د ټولو خبرو اصلي موخه يې دا ده چي د مطالعې فرهنګ بايد عام شي. دی وايي:«موږ لا په ټوليز ډول د پيتاوي خبرو له کلچره کتابي کلچر ته ور داخل شوي خلک نه يو. که د کتاب د کلچر د عاميدو او په خلکو کې مو د مطالعې د ذوق د پيدا کولو له پاره په دې ټولنيزه رسنی کې جدي مبارزه وکړو، په يوه کال کې به مو زرګونه تعليميافته ځوانان له مطالعې سره روږد کړي او په دې پوهولي وي، چي تعليم يواځې د نوکری له پاره نه، په ټولنه کې د موجودو هر ډول ناروغيو د له منځه وړلو له پاره بايد وکاروو»(۲)
ښاغلي مياخيل بل نوښت دا دی چي د خپلې مقالي په ترڅ کې يې د خپلو ورستيو لوستلو کتابونو لنډه يادونه هم کړې ده، چي دا يو نيک او په ځای کار دی. زما وړانديز خو لا داسې دی: که هر فرهنګي چي هر کتاب لولي د خپلو مطالعاتو پايله په خلاصه ډول که د يوې لنډې مقالي په ډول يې وليکي او ټولنيزو رسنيو او يا کوم داسې عام ويبسايت کې چي ډير لوستونکي ولري، خپاره کړي، ګټې به يې زښته ډيرې وي او هغه کسان چي هغو نوو چاپ شو کتابونو ته لاسرسی نه لري ورسره آشنا به شي.
دی د خپلې مقالي په پای کې وايي:« ... پکار ده، چي کتابونه مو د ژوند نه بېليدونکي ملګري کړو.»(۲)
د وطن د بيا آبادولو په سلسله کې ډيری خلک د سړکونو د غځولو، د ودانيو د جوړولو، د کانونو د را ايستلو په باب، د مځکو د آبادولو او خړوبولو په باب او ... په هکله سوچونه کوي، پلانونه جوړوي، وړانديزونه لري او د عملي لارو چارو په هکله يې هڅې کوي. دا ټول سم او په ځای کارونه دي، خو زه يې داسې انګيرم چي د لوړ پوړيزو ودانيو په هسکولو او په لوکسو موټرو کې په سپريدلو سره، ترقي او زدکړه، سواد او تمدن نه شي راتلای.
تر څو چي د خلکو هغه ذهنيت چي په جګړې عادت شوی دی، د جګړې په لوګو دودغړن شوی دی او ډير ځلي په منفي لوري په حرکت کې وي، بدل کړای نه شي، ټولنه نه شي بدليدلای. تر څو چي د ذهن سرک پوخ او سم نه شي، تر څو چي د فکر ودانۍ لوړه نه شي، هيڅ هم نه شي کيدای او دا کار د زدکړې او مطالعې له لارې ښه تر سره کيدای شي.
موږ بايد لومړی په ښوونه روزنه کې بدلون او انقلاب راولو، ښوونيز نظام سم او له اوسنيو غوښتنو سره يې برابر کړو، په ټولو نسلونو کې د کتاب لرلو او مطالعې دود دومره عام کړو چي لکه تنفس او خواړه خلک ورته د کمبود احساس وکړي او د ټولنې هر غړی يې داسې اړتيا وګڼي لکه د آکسيجن تنفس، د خوراک خوړل او د جامو اغوستل.
فرهنګيانو او قلموالو له څو کلونو را په دې خوا دې نيمګړتيا ته په پام سره، د کتاب د لوستلو او مطالعې د مهم والي او عاميدو په برخه کې يادونې کړي، مقالي يې ليکلي دي، د کتاب نندارتونونه او ښار ګوټي يې برانستي دي، چي هر يو يې په خپل وار سره د قدر وړ دي.
ما په خپله له څو کلونو را په دې خوا د نوي نسل د روزنې، زدکړې، مطالعې او کتاب لوستنې پر مهم والي باندې يو شمير مقالې خپرې کړي دي. په ځانګړي ډول د کتاب او مطالعې په باب زما د مقالو سر ليکونه دا دي:
ـ مطالعه او له مطالعې سره اړوندې ستونزې(۳)
ـ نوی نسل، مطالعه ستونزې او نوې هيلې(۴)
ـ کتاب، مطالعه اوزموږ دريځ(۵)
ځوبيسواده نسلونه او زموږ مسووليت(۶)
زه داسې فکر کوم چي کتاب تر غرونو او تر ډيرو جګو څوکو لا لوړ دی. راځئ چي له کتا سره مينه وکړو، په هر کور کې ميلمه کړو او د لوستلو دود يې عام کړو.
کتاب او د کتاب لوستل لکه وقايوي طب د انسان وجود، ذهن او ضمير د ډيرو بلا ګانو په مقابل کې وقايه کوي.
راځئ چي کتاب او مطالعه لکه خوب خوراک د خپل ورځني ژوند يوه برخه وګرځوو او دې راسره نسل ته او راپسې نسل ته د مطالعې دود د يوې ښې ډالۍ په ډول په ميراث پريږدو.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

زه خو يې داسې ګڼم چې د کتاب، مطالعې او زدکړو په باب بحث، خبرې او تبليغ هر څومره چې ډير وي، ګټه به يې ټولو ته رسيږي. په تيره ځوانانو او نوي نسل ته. له مطالعې سره د ځوانانو او نوي نسل روږديدل، له پوهې سره د خپلوۍ مانا لري.
له بده مرغه چې زموږ يو نسل نه، بلکې څو نسلونه له وسلې او د وسلې له کارولو سره روږدي شوي دي. زما خو وړانديز دا دی چې دا سلاح اوس بايد بدله کړای شي، د کارولو ډول او دود يې بايد بل ډول شي. که يې طنز ډوله ووايم، نو داسې به وي:
که د ټو پک ګرځول په اوږه باندې ډير اړين وي، نه شي کيدای چې د کلاشينکوف په توره شپيلۍ کې يو قلم وټومبو؟
د انځور جوړونکي او ټولو ته يې د رسوونکي منتبار، پور وړی او منندوی يم:



مآخذونه:

1-http://www.taand.com/archives/32645

2-http://www.taand.com/archives/32881

3-http://tolafghan.com/posts/26938

4-http://www.afghan-german.net/upload/Tahlilha_PDF/bahand_a_nawy_nasel_motala.pdf

5-http://www.afghan-german.net/upload/Tahlilha_PDF/bahand_a_ketab_motalia_auw_zamug_da_riz.pdf

6-http://www.afghan-german.net/upload/Tahlilha_PDF/bahand_a_zubeswada_nslona.pdf



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ